


د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، ټولنيزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!



# عبدالحفيظ « مليار ـ ساپی »

د نشرنيټه : 8 مارچ 2022 ميلادی

# د مور قدر!

ښه مې ياد شي
زه يتيم وم
مورژوندۍ وه
د مور مينه محبت و
شفقت مهرباني وه
خدايږو
سمه پاچاهي وه
برکت و او دعا وه
بس
له ميني يو فضاوه
نازولی يې ساتلم
په نس وږې که مږه وه
خو
د خولي مړۍ يې زماوه
ارمانونه يې په زړه ول
اميدونه يې په زړه ول
په ښه مينه يې روزلم
ښوونځي ته يې لیږلم
زما لارې يې څارلي
ښوونځي نه به چې راغلم
زه به يې غيږې ته نږدې کړم
په موسکو شونډو ګويان وه
ستړی مه شې زويه راغلې

زه به یې ښکل کړم
دسترخوان به یې هموار کړ
بس
په مینه یې کتلي
او دعاوې یې کولې
ښه مې یاد شي
مور به ویلي :
ته به ځوان شي
ته به
زما دزړه درمان شي
بیا کوژده به درته وکړم
بیابه ستانه مې لمسیان وي
بیابه هریو ګلالیان وي
بس
همدا به مې ارمان وي
هو
دا هرڅه هرڅه وشول
کوژده وشوه
واده وشو
راپه برخه مې بچیان شول
شکر واړه را زلمیان شول
خو افسوس چې مور مې مړه ده
انا لله وانا الیه راجعون
اوس چې زه په خپله پلار یم
په اولاد خپل مهربان یم
په خوښیو کې خوشاله
په دردونو یې پریشان یم
اوس په قدر دمور پوه شوم
خو افسوس چې هغه نه شته
کاش په قدر یې وخته پوه وای
چې مې پښې ورښکلولای
چې سجده مې ورته کړلای
هر ګړی مې نازولای
مایې زړه لاس ته راوړلای
ځوجنت مې وای ګټلای
جنتونه یې نصیب شه
جنتونه یې نصیب شه

***

عبدالحفیظ « ملیار »

www.said-afghani.org - بازگشت به صفحه اصلی